# د ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام واقعات

**13-July-2023**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډك بيان

(For Islamic Brothers)

په 13 جولائي کال 2023ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام واقعات

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د شيطان مردود مرګ
- د ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام طاقت
- د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ملک الموت سره ملاقات
- د ځنکدن د سختي آسانوونکي اعمال

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنٹر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا رَسُوۡلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَ اَصۡحٰبِكَ يَا حَبِيۡبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَ اَصۡحٰبِكَ يَا نُوۡرَ اللّٰه

نَوَيۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

حضرت شيخ احمد بن ثابت مَغربي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: يوه ورځ ما ديوال ته ډېره وهلې وه او د قِبلې طرف ته مې مخ وو او د درودِ پاک په موضوع مې مضمون له ترتيب ورکولو، په دغه وخت ما له خوب راغلے- ما په خوب کښې اوليدل چې زه په يو شاړ ځائے کښې يم چرته چې يوه وداني هم نشته څه خلق د لوئي جُمات په دروازه موجود دي او باقي دننه په جُمات کښې، زه دننه لاړم او د هغوئي سره کښيناستم، هلته ما يو ډېر ښائسته ښکلے ځلمے اوليدو، د کوم په مخ باندې چې د نيک بختئ نخښې ښکاريدلې-

ما اووئيل: ستاسو څه نوم دے؟ هغه اووئيل: زما نوم رومان دے او زه د اللّٰهُ رحمان په ملائيکو کښې يم- په دې باندې ما پوښتنه اوکړه: نو بيا تاسو د انسانانو خوا له ولې راغلې ئيئ؟ اوئې فرمائيل: دا ټول انسانان نهٔ بلکه فرښتې دي-

ما عرض اوکړو: حُضُور! دا خو اوفرمائيئ چې په دې فرښتو کښې کومې کومې دي؟ اوئې فرمائيل: په دوئي کښې حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام، حضرت ميکائيل عَلَيۡهِ السَّلَام، حضرت اِسرافيل عَلَيۡهِ السَّلَام او حضرت عزرائيل (يعني ملک الموت) عَلَيۡهِ السَّلَام دے- ما عرض اوکړو: زه

د حضرت عزرائیل عَلَیْہِ السَّلَام زِیارت کول غواړم- فوراً یو صاحب پاڅیدو، هغه هم ډیر ښکلے وو، اوئې فرمائیل: زه د الله پاک بنده عزرائیل یم- ما حضرت عزرائیل عَلَیْہِ السَّلَام ته عرض اوکړو: زه د الله پاک او د هغه د خوږ حبیب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وسیله درکووم او خواست کووم چې تاسو زما نه د ساه اخستو په وخت په ما باندې نرمي اوکړئ- اوئې فرمائیل: په رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې زیات درودِ پاک لوله-[1]

اے عاشقانِ رَسُول! د دې واقعې نه پته اولګیده چې د دُرودِ پاک د لوستلو چې چرته نور ډیر بے شمیره فضیلتونه او برکتونه دي، هلته د الله پاک د رحمت نه اُمید دے چې د زیات دُرودِ پاک لوستلو والا د روح د وَتلو په وخت به هم آساني وي- که چرې د دُرودِ پاک په برکت سره د مرګ په وخت د رُوح د بدن نه په جُدا کیدو کښې نرمي او آساني نصیب شي نو یقین اوکړئ چې دا ډیره ارزانه سودا ده، په دې کښې چرې هم د غفلت نه کار اخستل نه دي پکار-

جان نکلے تو اس طرح نکلے
تجھ پر اے غمزدوں کے یار درود
دل میں جلوے بسے ہوئے تیرے
لب سے جاری ہو بار بار درود[2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیّات د عملونو دار او مدار په نیتونو باندې دے-[1]

---

[1]... سعادۃ الدارین، الباب الرابع، اللطیفۃ السادسۃ، صفحہ:124-125 ملتقطاو ملخصًا-
[2]... ذوقِ نعت، صفحہ:125-

**اے عاشقانِ رَسُول!** ښه نيت بنده جنّت ته رَسَوي، د بيان اوريدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به بيان اورم ❀ عِلمِ دِين به زده کووم ❀ ټول بيان به اورم ❀ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښېنم ❀ نصيحت به حاصلووم ❀ د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پاک نوم چې واورم نو درودِ پاک به لولم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د شيطان مردود مرګ

حضرت اَحنَف بن قيس رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: يوه ورځ زه د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروق اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د ملاقات د پاره مدينے منورې ته حاضر شوم، ما هلته اوکتل چې خلقو حلقه جوړه کړې ده او حضرت کعبُ الاحبار رَضِیَ اللہُ عَنْہُ درس ورکوي۔ هغه وخت حضرت کعبُ الاحبار رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دا واقعه بيانوله، فرمائيل ئې: کله چې د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام آخري وخت راغلے نو حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام د هغوئي خوا ته حاضر شول، هغه وخت حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام د الله پاک په بارګاه کښې عرض اوکړو: اے الله کريمه! شيطان زما دښمن دے، تا هغه له د قيامت د ورځې پورې مهلت ورکړے دے، کله چې هغه په ما مرګ راتلونکے اووينې نو خاندي به۔ الله پاک اوفرمائيل: اے آدمه! تاسو به جنت ته تشريف يوسئ خو ستاسو دښمن شيطان ته به تر يو وخته پورې په دې

[1]… بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

دنيا کښې اوسيدل وي، کله چې د هغه مهلت ختم شي نو هغه به د وړاندې وروستو د تکليف برابر د مرګ تکليف تيروي-

بيا حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام د ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام نه پوښتنه اوکړه: ما ته اووائيئ! شيطان له به مرګ څنګ راځي؟ کله چې حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام هغوئي ته د شيطان مردود د مرګ په باره کښې اووئيل نو هغوئي اووئيل: رَبِّ حَسْبِیْ حَسْبِیْ يعنې اے الله کريمه! ما له دا کافي دے، زه په دې باندې رضا يم-

(حضرت کعب الاحبار رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چې دومره اووئيل نو خاموشه شو ولې) په خلقو باندې ويره خوره وه، چا ترينه پوښتنه اوکړه: اے کعب الاحبار رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ! الله پاک دې په تاسو باندې رحم اوکړي شيطان له به مرګ څنګ راځي؟ حضرت کعب الاحبار رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اول خو د وئيلو نه انکار اوکړو، بيا ئې اوفرمائيل: کله چې به دنيا په ختميدو وي، شپيلئ وهلو ته به بالکل نزدې وي، هغه وخت به خلق په بازارونو کښې وي، څوک به په خپل مينځ کښې خبرې کوي، څوک به په خپل مينځ کښې جګړې کوي، څوک به په [سواد] اخستو کښې مصروف وي چې ناڅاپه به يو تيز آواز راشي، د هغې د اوريدو سره به نيم خلق د بے هوشه کيدو سره راپريوځي، بيا به درې ورځې دوئي په هوش کښې نه راځي، د باقي پاتو نيمو خلقو عقل به ضائع شي او هغوئي به ليوني شي-

اوس به لا خلق په دې حالت کښې وي چې د زمکې او آسمان ترمينځه به د تندر په شان آواز راشي، د دې سره به دنيا فنا شي- دا هغه وخت دے د کوم وخت پورې چې شيطان له مهلت ورکړے شوے دے، بيا به الله پاک حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام ته حکم اوکړي: اے ملک الموته! ما د وړاندې وروستو د شميرې برابر ستا مرسته

کوونکي جوړ کړل، په تا کښې د ټول زمکې او آسمان والوو طاقت کېښودے شو، نن تا ته د غضب جامې اغوستلے شي، نن زما د غضب سره د شيطان خوا له لاړ شه او هغه ته د مرګ مزه اوښايه او تر ننه پورې چې په پېريانو او انسانانو باندې د مرګ څومره تکليفونه تير شوي دي، د هغوئي د ټولو د تکليفونو د مجموعې نه هم څو چنده زيات تکليف دې مردود له ورکړه-

د دې سره به د دوزخ داروغه ته د دوزخ د دروازو برسيره کولو حکم اوشي، بيا به حضرت ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام د داسې ويرونکي شکل سره د شيطان خوا له راشي چې که د زمکې او آسمان والا هغوئي په دې شکل او صورت کښې ووينې نو د واورې په شان به ويلې شي- حضرت ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام به شيطان په زور سره را اونيسي، د هغه د ګيرولو آواز به داسې ګرجدار وي چې که مشرق او مغرب والا هغه واوري نو د هغوئي عقل به کار پريږدي- دا هيبت ناکه نظاره چې ويني نو شيطان به تيښته شروع کړي، حضرت ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام به ورته فرمائي: اے خبيثه! اودريږه! تا چې تر ننه پورې څومره د ګمراه کولو سره دوزخ ته رسولي دي، نن به تا د هغه ټولو د تکليف برابر په تکليف کښې اخته کولے شي- تا څومره ډير ژوند تير کړو، څومره دې ګمراه کړل، څومره دې دوزخ ته اورسول، هغه ټول په دوزخ کښې ستا انتظار کوي، ستا مهلت ختم شو، اوس تيښته کوه! چرته به تښتې-

هغه وخت به شيطان مردود ته د پټيدو هيڅ ځائے نه ميلاويږي، دا به د ليونو په شان کله د مشرق په لور ځي، کله د مغرب په لور ځي، کله به په سمندر کښې غوپې وهي خو چرته چې به هم ځي، حضرت ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام به ورته مخې ته ولاړ وي- دغه شان په

منډو ترړو به د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام مزار ته اورسي او وائي به: اے آدمه! هم ستا په وجه زه مردود شوم، کاش! چې ته نه وے پيدا شوے-

اَللّٰهُ اَكْبَر! څومره خبيث دے! په داسې حالت کښې به هم د خپلې ګناه تور په نورو باندې لګوي- خير! اوس به دا په منډو ترړو هغه ځائے ته راځي، چرته چې په وړومبي ځل د مردود کيدو سره زمکې ته راکوز شوے وو، دلته به زمکه د اور په شان وي، د دوزخيانو راګيرونکې فرښتې به دا راګير کړي او دا به په ازغنو زنځيرونو اوتړلے شي، بيا چې تر څو پورې اللّٰه پاک اوغواړي دا به د ځنکدن په درد او تکليف کښې اخته وي، بيا به حضرت آدم او حوا عَلَيْهِمَا السَّلَام راپاخولے شي او ورته به اوويلے شي: اے آدمه! اے حوا! دا دے ستاسو دښمن--!! اوګورئ څنګه په عذاب کښې راګير دے، کله چې هغوئي دا بدبخته مردود د ځنکدن په حالت کښې په درد او تکلف لت پت اوګوري نو وائي به: رَبَّنَا قَدْ اَتْمَمْتَ عَلَيْنَا النِّعْمَةَ اے زمونږه رَبَّ! (زمونږه دښمن له د داسې سزا ورکولو سره) تا په مونږ باندې خپل نعمت تمام کړو- آخر به شيطان مردود په تکليف کښې مړ کړے شي- [1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! غور اوکړئ! شيطان مردود به څنګه مړ کولے شي، په څومره وحشت ناکه سزاګانو کښې به اخته وي، دا خو صرف د ځنکدن د حالت بيان دے، د قيامت په ورځ چې به دې مردود له کومه سزا ورکولے شي، هغه څوک بيانولے شي---؟؟ تاسو ته پته ده دې مردود له به دا سزا ولې ورکولے شي؟ د ده به دومره وحشت ناکه انجام ولې وي؟ ځکه چې دې بد بخته د اللّٰه پاک د نبي حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ګستاخي

1... تَنْبِيْهُ الْغَافِلِين، باب الحکايات، صفحہ:360 ملتقطاً-

اوکړه، د نبي په مقابله کښې ئې تکبر اوکړو، د الله پاک نافرمانه شو، د الله پاک د حکم په مخکښې دې مردود د خپل عقل نه کار واخستو، د کوم په سبب چې ذلت او رسوائي د ده قسمت جوړ شو۔

آدم کو شرف ایسا مِلا، آدمی اَشرفِ خلق ہوا | ان کو خلیفہ حق نے کیا، تاجِ کرامت سر پہ رکھا

لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللہ اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ اللہ

واسطہ یہ اس نُور کا تھا، حضرتِ انساں قبلہ بنا | سارے فرشتوں نے سجدہ، پیشِ صفی اللہ کیا

لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللہ اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ اللہ

پاک گروہِ مُقَدَّس کا، ایک علّامہ مُعَلِّم تھا | قومِ جن سے تھا پیدا، تھا اسے غَرّہ عِبادت کا

لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللہ اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ اللہ

جب سجدہ کا حکم ہوا، سب نے کیا اس نے نہ کیا | اور متکبر نے یہ بکا، یہ مٹی میں انگارا

لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللہ اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ اللہ

اس کو آب و گِل سوجھا، منکر ہو کر شیطان بنا | جن کے سبب وہ حکم ہوا، اس نے وہ نُور نہیں دیکھا

لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللہ اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ اللہ(1)

**وضاحت:** الله پاک حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام له اوچت مقام ورکړو، هغوئي او د هغوئي اولاد ئې اشرف المخلوقات (یعنې په ټول مخلوق کښې ډیر عزت والا) جوړ کړل، هغوئي ئې خپل خلیفه جوړ کړو، دا ټول عنایات د هغه نُورِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په وجه وو، کوم چې الله پاک د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام په تندي کښې ایښودے وو، د هغه نُور برکت وو چې حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام ته ټولو فرښتو سجده اوکړه، د فرښتو په دې پاکه ډله کښې شیطان هم وو، هغه په خپل عبادت باندې غرور کولو، کله چې حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام ته د سجدې

---

[1]... سامان بخشش، صفحہ:44۔

کولو حکم اوشو نو ټولو فرښتو سجده اوکړه، شیطان اونکړه، دې بد بخته تکبر اوکړو، اوئې وئیل: زه د اور نه جوړ یم، آدم د خاورې نه جوړ کړے شوے دے- د دې بد بخته عقل کار نه کولو، ده دا خو لیدل چې د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام بدن د پاکې خاورې نه جوړ کړے شوے دے خو دا ئې اونه لیدل چې د هغه په تندي کښې نُورِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم روښانه دے-

الله پاک دې مونږ د غرور او تکبر نه بچ کړي، همیشه دې د نیکانو بنده ګانو، نبیانو، ولیانو با اَدبه اوساتي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام پیژندګلو

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام الله پاک ته نزدې د اوچتې مرتبې والا فرښته ده، د هغوئې پاک نوم دے: عزرائیل (د الله پاک فرمانبرداره)- هغوئې په روحونو قبضه کولو باندې مقرر دي او په دې کښې لږه شان کوتاهي هم نه کوي، کله چې د چا آخري وخت راشي، د یوې لحظې د مهلت ورکولو بغیر د هغه روح قبض کوي- الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

قُلْ یَتَوَفّٰىكُمْ مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِیْ وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۱﴾

(پارہ:21،سورۂ سجدہ:11)

ترجَمۂ کنزُ العرفان: تهٔ اوفرمایه: تاسو د مرګ فرښته وفات کوي کومه چې په تاسو باندې مقرر ده بیا به تاسو د خپل رَبّ په لور واپس کړے کیږئ-

علامه قرطبي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ليکي: ❁ حضرت عزرائيل (يعني ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام) دومره لوئي دے چې د هغوئي سر په آسمان کښې او ښپې په زمکه باندې دي ❁ د هغوئي ډيرې مرسته کونکې فرښتې هم دي، د کومو شميره چې الله پاک ته بهتره معلومه ده ❁ په روايتونو کښې دي: په نورو فرښتو باندې د هغوئي رُعب پروت دے، تر دې چې حامِلين عرش (يعني عرشِ اعظم اوچتوونکې فرښتې) چې کله هغوئي ته ګوري نو ډيرې ويريږي [1] ❁ د حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام عمر ډير زيات دے، حضرت محمد بن کعب قُرظِي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: د ټولو په آخِر کښې (يعني زمکې او آسمان والا ټول مخلوق تر دې چې حضرت جبرائيل او ميکائيل او عرش پورته کوونکې فرښتې هم د مرګ ذائقه اوسَکي، هغه وخت به) حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام له مرګ راځي، الله پاک به هغوئي ته فرمائي: يَا مَلَكَ الْمَوْتِ مُتْ! اے د مرګ فرښتې! تهٔ هم مړ شه- د دې اوريدو سره به حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام يوه تيزه چغه اووهي او وفات به شي- [2]

## د ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام طاقت

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! الله پاک حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام له ډير زيات طاقت ورکړے دے- په روايتونو کښې دي: يو ځل د الله پاک نبي حضرت ابراهيم عَلَیْہِ السَّلَام د حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام نه پوښتنه اوکړه: اے ملک الموته! که په زمکه کښې وبا خوره وي، ډير خلق مړه کيږي، په هغه حالت کښې يو سړے په مغرب کښې دے، يو په مشرق کښې دے، په هغه وخت کښې تاسو څه کوئ (يعني د دې دواړو روح يو ځائے

---

1... التذکرۃ للقرطبی، باب ماجاء ان للموت سکرات...الخ، جز:1، صفحہ:19 ملتقطاً۔

2... کتاب الاہوال ابن ابی دنیا، صفحہ:92، حدیث:58 بتغیر قلیل۔

څنګه قبض کوئ)؟ حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام عرض اوکړو: زه د الله پاک په حکم سره روحونه راغواړم نو هغه زما د 2 ګوتو ترمينځه راځي- (1)

يو ځل حضرت يعقوب عَلَیْہِ السَّلَام د حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام نه پوښتنه اوکړه: آيا د هر ساه لرونکي نه ساه هم تاسو اخلئ؟ عرض ئې اوکړو: آو جي- اوئې فرمائيل: تاسو خو دا وخت زما سره ئيئ ولې خلق په ټوله دنيا کښې خواره دي؟ عرض ئې اوکړو: الله پاک دنيا زما په اختيار کښې راکړې ده، دا زما د پاره داسې ده لکه چې ستاسو مخې ته يو تالے کيښودے شي نو تاسو چې د هغې نه کوم غواړئ راوچتوئ، هم داسې په دنيا کښې چې چرته د چا روح ويستل غواړم راوباسم ئې- (2)

الله! الله! خوږو ورونړو! د دې نه معلومه شوه: حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام حاضر او ناظر دے يعنې هغوئي چې چرته هم وي، ټولې دنيا ته مخامخ ګوري- د دې نه اندازه اولګوئ چې کله د يوې فرښتې د طاقت دا حال دے نو د فرښتو د آقا، محبوبِ خدا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شان او عظمت حالت به څه وي-

## د خوږ آقا د ملک الموت سره ملاقات

حُجَّةُ الاِسلَام حضرت امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: د معراج په شپه چې کله مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د آسمانونو سيل کولو، هغه وخت په آسمان باندې هغوئي يوه فرښته اوليدله، يوه غټه تختئ د هغوئي مخې ته پرته وه، په خوا کښې ورسره يوه غټه ونه وه، د کومې ښاخونه چې د مشرق نه تر مغربه پورې خواره وو، هغې

---

[1]... احياء علوم الدين، کتاب ذکر الموت ومابعده، الباب الثالث...الخ، جلد:4، صفحه:565، ملتقطًا-

[2]... موسوعة ابن ابي الدنيا، کتاب ذکر الموت، ملک الموت واعوانه، جلد:5، صفحه:469، حديث:246-

فرښتې هغه وَنې ته په غور سره کتل- خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرت جبرائیل امین عَلَیْہِ السَّلام ته اوفرمائیل: دا فرښته څوک ده؟ یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دا فرښته د خوندونو ختموونکې، د دوستانو جدا کوونکې، د ښځو کونډوونکې او د بچو یتیمانو جوړوونکې، د اوچتو محلونو ورانوونکې او د هدیرې آبادونکې ده یعنې ملک الموت حضرت عزرائیل عَلَیْہِ السَّلام دے-

بیا حضرت جبرائیل امین عَلَیْہِ السَّلام حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلام ته اووئیل: اے عزرائیله (عَلَیْہِ السَّلام)! دا وړاندې وروستو سردار، محبوبِ رَبِّ غفار حضرت مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے- دا ئې چې واوریدل نو حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلام راپاڅیدو، د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره ئې سلام اوکړو، د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره ئې د غاړې میلاوهلو سعادت حاصل کړو او په محبت کښې ئې د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تندے ښکل کړو او د هغوئي سره ئې په خوا کښې د کښیناستو خواست اوکړو- بیا ئې عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! څه اراده لرئ (یعنې زما د پاره څه حکم دے؟) خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دا کومه تختئ چې ستاسو مخې ته پرته ده، دا څه څیز دے؟ عرض ئې اوکړو: الله پاک د ټول مخلوق رُوحونه زما په قبضه کښې کړې دي، په دې تختئ باندې د هغې تفصیل لیکلے دے، د دې په ذریعه باندې زه د هغوئي حساب ساتم-

خوږ آقا، محبوبِ خُدا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پوښتنه اوکړه: دا دومره غټه ونه څه څیز دے؟ عرض ئې اوکړو: د دې وَنې پاڼې د مخلوق د شمیرې برابر دي، هیڅ یو انسان داسې نشته د کوم د نوم پاڼه چې په دې ونه کښې نه وي، کله چې څوک بیمارېږي نو د هغه د نوم پاڼه

زیړیږي، د دې نه زه پوهه شم چې فلانکے ګس بیمار دے- بیا هغوئي د یو لوښي د یو لوښي ښودلو سره عرض اوکړو: کله چې پاڼه زیړه شي نو زه د دې لوښي اوبه په دې باندې ترمکیا کووم، که پاڼه خپل اصلي حالت ته راشي نو مطلب دا چې هغه انسان به د دې بیمارۍ نه شِفا بیاموي، که پاڼه د شین الي حالت ته رانشي بلکه توره شي نو زه پوهه شم چې د ده د مرګ وخت راغلے دے- زه هغه پاڼې ته ګورم کله چې هغه د وَنې نه راپریوځي نو مطلب چې د هغه د مرګ وخت راغلے دے، بیا که هغه ګس نیک وي نو زه د هغه خوا له په ښه شکل او صورت کښې ځم او د هغه د رُوح قبض کولو سره ئې په راحت او خوشبو کښې ساتم، که هغه ګنهګار وي نو د هغه خوا له په ویروونکي شکل کښې ځم، هغه چې ما وینې نو چغې وهي: اے ملک الموت عَلَیۡہِ السَّلَام! زما ګناهونه ډیر شو، زما اعمال نامه په ګناهونو توره شوه، آه! اوس د رخصتیدو وخت راغلے دے، ما له لږ مهلت راکړئ! د پاره د دې چې زه د الله پاک په حضور کښې لږې اوښکې توئي کړم، لږ وخت راکړئ چې زه د ګناهونو نه توبه کړم- زه وایم: ممکن نه ده---!! دا خو بالکل ناممکنه خبره ده- بیا زه د هغه رُوح قبض کړم-[1]

دِلا غافِل نہ ہو یکدم یہ دُنیا چھوڑ جانا ہے
بغیچے چھوڑ کر خالی زمیں اندر سمانا ہے

تُو اپنی موت کو مت بُھول کر سامان چلنے کا
زمیں کی خاک پر سونا ہے اینٹوں کا سرہانا ہے

نہ بیلی ہو سکے بھائی، نہ بیٹا، باپ تے مائی
تُو کیوں پِھرتا ہے سودائی عمل نے کام آنا ہے

عزیزا! یاد کر جس دِن کہ عزرائیل آئیں گے
نہ جاوے کوئی تیرے سنگ اکیلا تُو نے جانا ہے

غُلامؔ اک دَم نہ کر غفلت، حیاتی پر نہ ہو غرّہ
خُدا کی یاد کر ہر دَم کہ جس نے کام آنا ہے

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... سُلْوَةُ الْعَارِفِین، باب ذکر ملک الموت، جلد:2، صفحہ:212 - 215 ملتقطًا-

## څوک مرګ ډیر یاد ساتي---؟

اے عاشقانِ رَسُول! د دې عبرتناکه روایت نه معلومه شوه: چې په مونږ کښې د هر یو د مرګ وخت مقرر دے، حضرت ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام هر وخت زمونږ په لور په توجه سره ناست دے، کله چې د چا وخت راشي، بیا د یوې لحظې مهلت هم نه ورکوي، فوراً د هغه رُوح قبض کوي- آه! افسوس! مونږ د دې حقیقت نه هم خبر یو، منو ئې هم خو قصداً عمداً مو ځان ناغرضه کړے دے، په غفلت کښې پراته یو، یاد ساتئ! که مونږ مرګ یاد کړو که یاد نه کړو، که مونږ د نیک اعمال کولو سره د آخرت تیاري اوکړو که اونکړو، مرګ به بهر حال راځي او خامخا به راځي، حضرت ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام نه مخکښې چا له مهلت ورکړے دے، نه به ئې مونږ له راکوي- ځکه عقل مند هغه دے کوم چې په ژوند کښې مرګ یاد اوساتي او د دې د پاره تیاري کوي- په 29 سیپاره، سورۂ ملک، آیت: 2 کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| الَّذِیْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَ الْحَیٰوةَ لِیَبْلُوَكُمْ اَیُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ؕ (پارہ:29، سورۂ ملک:2) | ترجَمۂ کنزُ العرفان: هغه کوم چې مرګ او ژوند پیدا کړو د پاره د دې چې په تاسو ازمیښت اوکړي چې په تاسو کښې څوک ښه عمل کوونکے دے- |

علمائے کرامو د دې آیت یوه معنیٰ دا بیان کړه چې الله پاک ژوند او مرګ پیدا کړو د پاره د دې چې ستاسو کره کتنه اوشي چې په تاسو کښې څوک مرګ یاد ساتي او د دې د پاره پوره تیاري کوي؟ (1)

1... شُعَبُ الْاِیمان، باب:فی الزہد وقصر الامل، جلد:7، صفحہ:408 ملتقطًا۔

## د مرګ تیاري کوه!

صحابئ رسول حضرت طارق مُحاربي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته د نصیحت کولو سره اوفرمائیل: يَا طَارِقُ اِسْتَعِدَّ لِلْمَوْتِ قَبْلَ الْمَوْتِ یعنې اے طارقه! د مرګ نه مخکښې د مرګ تیاري اوکړه---!! (1)

| | |
|---|---|
| آخرت کی کرو جلد تیاریاں | موت آکر رہے گی تمہیں بے گماں |
| موت کا دیکھو اِعلان کرتا ہوا | سُوئے گورِ غریباں جنازہ چلا |
| کہتا ہے: جامِ ہستی کو جس نے پیا | وہ بھی میری طرح قبر میں جائے گا |
| تم اے بوڑھو سنو! نوجوانو سنو! | اے ضَعیفو سنو! پہلوانو سنو! |
| موت کو ہر گھڑی سر پہ جانو سُنو! | جلد توبہ کرو میری مانو سنو! |
| بھائیو! سب گناہوں سے مُنہ موڑ دو | ناتا تم نیکیوں ہی سے بس جوڑ دو |
| ایک دِن موت آکر رہے گی ضرور | اس کو تم مجرمو! کچھ سمجھنا نہ دُور (2) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ویرېږئ---!! د بیرته ګرځیدو د ورځې نه

په 3 سیپاره، سورۀ بقره، آیت: 281 کښې الله پاک فرمائي:

وَ اتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ اِلَى اللّٰهِ (پاره:3، سورۀ بقره:281)

ترجَمهٔ کنزُ العرفان: او ویرېږئ د هغه ورځې نه په کومه چې به تاسو د الله په لور بیرته ګرځولے شئ-

---

1... معجمِ کبیر، جلد:4، صفحہ:391، حدیث:8099۔

2... وسائلِ بخشش، صفحہ:654 ملتقطًا۔

د یو قول مطابق د دې آیت مبارک معنیٰ دہ: اے ایمان والوو! ویریږئ د هغه ورځې نه کله چې به تاسو د دې دنیا د پریښودو سره د آخرت په سفر باندې روانیږئ-[1]

آه! هغه ورځ کله چې به ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام تشریف راوړي، د بدن نه به روح راښکلے شي، په جماتونو کښې به اعلان کولے شي: فلانکے د فلانکي ځوي په حق رسیدلے دے- آه! بیا به زر غسل ورکونکے راوبللے شي، د غسل ویستو سره به کفن اچولے شي، بیا به---!! په لږ وخت کښې مونږه تیاره قبر ته کوزولے شي- اے ایمان والوو! ویریږئ---! د هغه ورځې نه ویریږئ---!!

ہے یہاں سے تجھ کو جانا ایک دن
قبر میں ہوگا ٹھکانا ایک دن

منہ خدا کو ہے دکھانا ایک دن
اب نہ غفلت میں گنوانا ایک دن

ایک دن مرنا ہے آخر موت ہے
کرلے جو کرنا ہے آخر موت ہے

## حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام تول ویني

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** روح قبض کول د حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام په ذمه باندې دي، هغوئې پخپله په دې ذمه وارئ کښې لږه شان کوتاهي هم نه کوي- امام جلال الدین سیوطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه لیکي: حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام هره ورځ په هر کور کښې 5 ځله او د یو روایت مطابق 7 ځله تشریف راوړي او ګوري چې دلته څوک داسې څو نشته د کوم د روح قبض کولو حکم چې شوے دے-[2]

---

1... تفسیر صراط الجنان، پارہ:3، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:281، جلد:1، صفحہ:419 مفہومًا۔

2... شرح الصدور، الباب الثالث عشر باب ماجاء فی ملک الموت واعوانہ، صفحہ:43 ملتقطًا۔

حضرت ثابت بُناني رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: د ورځې او شپې په 24 ګهنټو کښې يوه ګهنټه هم داسې نشته په کومه کښې چې د هر ساه لرونکي په سر باندې ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام ولاړ نه وي، که حکم وي نو د هغه رُوح قبض کوي، ګني نو واپس ځي۔ (1)

الله! الله! **خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** غور اوکړئ! ثومره د عبرت خبره ده، مونږ په غفلت کښې پراته يو، په فضول څيزونو کښې پراته يو، په ګناهونو کښې مشغول اوسو، بل خوا د ذائقي ختموونکے حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام هر وخت په مونږ پسې دے، يعنې مونږه د مرګ نه غافله، د دې دنيا په عارضي او فاني ژوند باندې مطمئين يو ولې مرګ هر وخت زمونږ په سر باندې ولاړ دے۔

کتنی بے اعتبار ہے دُنیا
موت کا انتظار ہے دُنیا
گرچہ ظاہِر میں صُورتِ گُل
پر حقیقت میں خار ہے دُنیا
ایک جھونکے میں اِدھر سے ہے اُدھر
چار دِن کی بہار ہے دُنیا
زندگی نام رکھ دیا کس نے
موت کا انتظار ہے دنیا

## تۀ خاندې ولې---!!

د صحابئ رسول حضرت انس بن مالک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام د بنده ګانو مخونو ته هره ورځ 70 ځله ګوري، کله چې څوک بنده داسې خاندي د کوم د روح قبض کولو د پاره چې

1... حلیۃ الاولیاء، ثابت البنانی، جلد:2، صفحہ:370، رقم:2604۔

هغوئي رالیږلے شوي وي نو هغوئي وائي: څومره د حیرانتیا خبره ده، زه د ده د روح قبض کولو د پاره رالیږلے شوے یم او دے خاندي-[1]

ہے یہاں سے تجھ کو جانا ایک دن
قَبۡر میں ہو گا ٹھکانا ایک دن
منہ خدا کو ہے دِکھانا ایک دن
اب نہ غفلت میں گنوانا ایک دن
ایک دن مرنا ہے آخر موت ہے
کرلے جو کرنا ہے آخر موت ہے
یادر کھ ہر آن آخر موت ہے
بن تُو مت انجان آخر موت ہے
مرتے جاتے ہیں ہزاروں آدمی
عاقِل ونادان آخر موت ہے

## په تاسو کښې به څوک هم باقي نه پاتې کیږي

امام حسن بصري رَحۡمَۃُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: حضرت ملک الموت عَلَيۡهِ السَّلَام هره ورځ هر کور ته 3 ځله تشریف وړي، که په هغوئي کښې د چا آخري وخت راغلے وي نو د هغه روح قبض کړي- په کور کښې غوغا جوړه شي، د کور والا ژړا انګولا جوړه کړي، هغه وخت حضرت ملک الموت عَلَيۡهِ السَّلَام د کور په دروازه باندې اودریږي او فرمائي: اے خلقو! ما ستاسو هیڅ قصور نه دے کړے، ما ته خو د الله پاک له خوا حکم راکړے شوے دے، ما ستاسو رزق نه دے خوړلے، نه مې ستاسو ژوند کم کړو، نه مې د وخت نه مخکښې ساه واخسته، بے شکه ستاسو په لور به بیا راځم، بیا به راځم، بیا به راځم تر دې چې په تاسو کښې څوک هم باقي پاتې نه شي-[2]

یادر کھ ہر آن آخر موت ہے
بَن تُو مت انجان آخر موت ہے
مرتے جاتے ہیں ہزاروں آدمی
عاقِل ونادان آخر موت ہے
بارہا عِلمی تجھے سمجھا چکے
مان یا مت مان آخر موت ہے

---

[1]... مسندِ فردوس، جلد:1، صفحہ:233، حدیث:894۔

[2]... احیاء علوم الدین، کتاب ذکر الموت، الباب الثالث فی سکرات الموت...الخ، جلد:4، صفحہ:567۔

## ستا سره به په مړو کښې زياتوالے کيږي

صحابئ رسول حضرت مُعاذ بن جبل رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: د حضرت ملک الموت عَلَیۡہِ السَّلَام سره يوه نيزه ده، کومه چې د مشرق او مغرب ترمينځه هر ځائے ته رسي، کله چې د چا ژوند ختم شي نو هغوئي په هغه نيزه د هغوئي سر وهي او فرمائي: اوس به ستا سره د مړو په لښکر کښې زياتوالے اوشي-[1]

| | |
|---|---|
| وہ ہے عیش و عشرت کا کوئی محل بھی | جہاں تاک میں ہر گھڑی ہو اَجَل بھی |
| بس اب اپنے اِس جہل سے تُو نکل بھی | یہ جینے کا انداز اپنا بدل بھی |
| جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے | یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے |

## د ملک الموت عَلَیۡہِ السَّلَام مختلف شکلونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! لکه څنګه چې ملک الموت عَلَیۡہِ السَّلَام په خپله ذمه وارئ کښې لږه شان کوتاهي نه کوي، څه چې هغوئي ته حکم کيږي هم هغه کوي- کاش! چې زمونږه هم داسې د مرګ ياد، د مرګ تياري کول نصيب شي، يقين اوکړئ! ساه وتل، مرګ ته غاړه وتل آسان کار نه دے، ډير ګران کار دے، آه! مونږ ټولو ته به د دې سختې نه تيريدل وي، په يو حالت کښې هم د دې نه خلاصے نشي ميلاويدے- صحابئ رسول حضرت ابن عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: کله چې الله پاک حضرت ابراهيم عَلَیۡہِ السَّلَام خپل خليل جوړ کړو نو حضرت ملک الموت عَلَیۡہِ السَّلَام هغوئي ته د دې خبرې د زيري ورکولو د پاره حاضر شول، حضرت ابراهيم عَلَیۡہِ السَّلَام ملک الموت عَلَیۡہِ السَّلَام ته اوفرمائيل: اے ملک الموت عَلَیۡہِ السَّلَام ، ما ته اوښايه چې تهٔ د کافرانو نه روحونه څنګه اخلې؟ ملک الموت

---

[1]... کتاب العظمة ، باب صفة ملک الموت ، صفحه:168 ، حديث:474 ـ

عَلَیۡہِ السَّلَام عرض اوکړو: تاسو بل خوا مخ واړوئ! کله چې (لږ وخت پس) حضرت ابراهیم عَلَیۡہِ السَّلَام واپس مخ راواړولو او ملک الموت عَلَیۡہِ السَّلَام ته ئې اوکتل نو هغه د تور رنګه سړي په شکل وو، د هغه سر آسمان ته رسیدو، د هغه د خلې نه د اور لمبې وتلې او د هغه د بدن هر ویښته د یو انسان په شکل وو د کوم د خلې او غوږونو نه چې د اور لمبې وتلې- دا وحشتناکه نظاره چې ئې اولیدله نو حضرت ابراهیم عَلَیۡہِ السَّلَام بے هوشه شو- لږ وخت پس چې تیک شو نو حضرت ابراهیم عَلَیۡہِ السَّلَام اوفرمائیل: اے ملک الموت عَلَیۡہِ السَّلَام ! که کافر ته ستاسو د دې شکل لیدلو نه علاوه بَل هیڅ غم یا ازمیښت میلاو نه شي نو دا هم د هغه د پاره کافي دے- اوس ما ته اوښایه چې تهٔ د مومن نه روح څنګه اخلې؟ حضرت عزرائیل عَلَیۡہِ السَّلَام بیا مخ بل اړخ ته د اړولو عرض اوکړو، حضرت ابراهیم عَلَیۡہِ السَّلَام مخ بل خوا واړولو، لږ وخت پس ئې چې مخ بیرته راواړولو نو څه ګوري چې حضرت ملک الموت عَلَیۡہِ السَّلَام سپینې جامې اغوستې دي او د ډیر ښکلي ځلمي په شکل کښې موجود دے- حضرت ابراهیم عَلَیۡہِ السَّلَام اوفرمائیل: که مومن د خپل مرګ په وخت ستاسو د دې شکل نه علاوه بَل هیڅ خیز اونه ویني نو دا هم د هغه د پاره کافي دے-[1]

## د ملک الموت عَلَیۡہِ السَّلَام 4 شکلونه

حُجَّةُ الاِسلَام حضرت امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: د حضرت ملک الموت عَلَیۡہِ السَّلَام 4 مختلف شکلونه دي: **(1):** یو هغه شکل په کوم کښې چې د هغوئي د مخ نه د اور لمبې خیژي **(2):** دویم شکل بالکل تور دے **(3):** دریم شکل ډیر سخت او ناخوښے دے **(4):** او څلورم شکل ډیر پړقیدونکے او نوراني-

کله چې د کافِر رُوح قبض کول وي نو حضرت ملک الموت عَلَیۡہِ السَّلَام په وړومبي شکل

---

1... موسوعة ابن ابي الدنيا، كتاب ذكر الموت، ملك الموت واعوانه، جلد:5، صفحه:467، حديث:242 ملتقطًا-

کښېږي راځي، هغه وخت د هغوئي د مخ نه د اور لمبې خيژي، کله چې د چا بد مذهبه نه روح اخستل وي نو د ډېر تور مخ سره تشريف راوړي، کله چې د ګنهګار روح قبض کول وي نو په ډېر سخت او ناخوښې شکل کښې راځي او کله چې د توبه کوونکو (نيکانو خلقو) روح قبض کول وي نو د نوراني مخ سره تشريف راوړي-[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دې روايتونو نه معلومه شوه چې حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام د هر چا روح په يو انداز کښې نه قبض کوي بلکه د ګس مطابق ئې انداز بدل وي- د نيکانو خلقو خوا له د راتللو انداز ئې يو وي او چې کله د کافِر روح قبض کول وي نو ډېره وحشتناکه طريقه خپلوي- کاش! چې کله زمونږ نه د روح اخستو وخت راشي نو چې د الله پاک د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جلوه مو نصيب شي، که داسې اوشو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! په روح وتلو کښې به آساني شي، ګنې که د ګناهونو سزا ميلاو شوه او زمونږه د ورځې او د شپې د ګناهونو په وجه حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام په وحشتناک شکل او صورت کښې د روح ويستو د پاره تشريف راوړو نو يقين اوکړئ! معامله به ډېره ګرانه شي، سيدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: (د ځنکدن په وخت که حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام که چرې په وحشتناک شکل کښې تشريف راوړو نو) ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام ته کتل هم د زرو [1000] تورو د تکليف نه هم سخت دي- اَلْاَمان والحفيظ!

| | |
|---|---|
| گر ترے پیارے کا جلوہ نہ رہا پیشِ نظر | سختیاں نزع کی کیوں کر میں سہوں گا یارَبّ |
| نَزع کے وَقْت مجھے جَلْوَہِ محبوب دِکھا | تیرا کیا جائے گا میں شاد مَروں گا یارَبّ[2] |
| بَوقتِ نَزع سلامت رہے مرا ایماں | مجھے نصیب ہو توبہ ہے التجا یارب[3] |

---

[1]... سُلْوَةُ الْعَارِفِين، باب ذكر ملك الموت، جلد:2، صفحه:212-

[2]... حدائق بخشش، صفحہ:166-

[3]... حدائق بخشش، صفحہ:87-

# د ځنکدن سختي لحظې

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! خبره واقعي رښتيا ده، د ځنکدن په وخت يو خو غمونه ډېر وي، د دنيا پريښودو غم، د مور پلار، د خوئيندو وروڼو، د خپلو خُپلوانو نه د جدائيئ غم، د مستقبل د پاره د نيمګړو آرمانونو غم، د تيرو ګناهونو غم، داسې ډير غمونه انسان راګير کړي، د دې سره خدائے دې نه کړي که د ګناهونو سزا هم ميلاو شي، حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام په وحشتناک شکل کښې تشريف راوړي نو لږ تصور خو اوکړئ! هغه وخت به په مونږ باندې څه تيريږي---؟ مونږ به حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام ته ځنګه مخامخ کيږو-

خو افسوس! خبره دلته هم نه ختميږي، د دې سره د ځنکدن تکليفونه هم دي- حضرت امام حسن بصري رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: د غيبو نه خبر، نبي سرور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مرګ د تکليفونو او د دې په حلق کښې د انختو د ذِکر کولو سره اوفرمائيل: دا تکليف د تورې د 300 ګزارونو برابر دے- (1) په يو حديثِ پاک کښې دي: د ټولو نه آسان مرګ په مالوچو کښې د انختي ازغن ښاخ په شان وي، کله چې داسې ښاخ د مالوچو نه راويستے شي نو مالوچ به هم د دې سره ضرور راځي- (2)

حُجَّةُ الاِسلَام حضرت امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: د ځنکدن سخته نيغ په نيغه په روح باندې حمله کوي، بيا دا سخته په ټول بدن کښې خوره شي، د هر هر رګ نه، د هرې هرې پټې نه، د هر هر جوړ نه، د هر هر ويښته نه او د سر نه

[1]... موسوعة امام ابن ابي الدنيا، کتاب ذکر الموت، الخوف من الله، جلد:5، صفحه:453، حديث:192-

[2]... موسوعة امام ابن ابي الدنيا، کتاب ذکر الموت، الخوف من الله، جلد:5، صفحه:453، حديث:194-

واخله ښپو پورې د خرمنې د هرې حصې نه روح په زوره د راښکلو سره ویستلے شي، پوښتنه مه کوئ چې دا خومره سخت تکلیف دے؟ بزرګانو خو تر دې پورې اوفرمائیل چې د مرګ تکلیف د تورې د ګزار نه، په آره باندې د پرې کولو نه او په قینچۍ باندې د کټ کولو نه هم ډیر سخت دے-[1] امام اوزاعي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: مونږ ته دا خبره رارسیدلې ده چې د مرګ نه تر د قیامته پورې مړے د مرګ تکلیف محسوسوي-[2] الامان والحفیظ! الامان والحفیظ!

بوقتِ نزع آقا! ہو نہ جاؤں کہیں برباد
مِرا ایمان رکھ لینا سلامت یارسُولَ الله
شَدائدِ نَزع کے کیسے سَہوں گا یارسولَ الله
اندھیری قبر میں کیسے رہوں گا یارسولَ الله
ترے رَبّ کی قسم! میں لائقِ نارِ جہنّم ہوں
بچا سکتی ہے بَس تیری شفاعت یارسُولَ الله
فَسادِ نفسِ ظالم سے بچالو از پئے شیخَین
کرو شیطان سے میری حفاظت یارسولَ الله [3]

آه! اے عاشقانِ رَسُول! پته نه لګي چې هغه وخت به زمونږ څه کیږي! مرګ وخت په وخت رانزدې کیږي، د قبر د منزل په لور پرمختګ روان دے، تصور اوکړئ لکه چې مونږه په ډیر احتیاط سره ایمان د خپلې سینې سره لګولے دے، یو اړخ ته نفسِ اماره په ایمان باندې راغوټه کیږي، بل اړخ ته شیطان د چالونو بدلولو سره ګزار کوي، د دریم اړخ نه بد مذهبه په ایمان باندې په حملو کولو کښې مصروف دي نو د څلورم اړخ نه د دنیا بے ځایه محبت په ایمان پسې لګیدلے دے! یعنې داسې اوګڼئ چې څوک لاسونه تاوهي، څوک ښپې راکاږي، څوک سوکان راکوي، څوک لتې راکوي، هر یو پوره زور

1... احیاءالعلوم، جلد:5، صفحہ:511-
2... احیاءالعلوم، جلد:5، صفحہ:515-
3... وسائلِ بخشش، صفحہ:328-332-

لګوي چې په څه طريقه مونږ د ايمان نه خلاص کړي، آه! په دې حالت کښې به د ايمان د دولت سلامت وړلو سره قبر ته څنګه داخليږو---!! [1]

| | |
|---|---|
| راہ پُر خار ہے، کیا ہونا ہے؟ | پاؤں افگار ہے، کیا ہونا ہے؟ |
| دُور جانا ہے رہا دِن تھوڑا | راہ دُشوار ہے کیا ہونا ہے؟ |
| ہائے رے نیند مُسَافِر تیری | کُوچ تیار ہے، کیا ہونا ہے؟ |
| ارے اَو مجرمِ بے پرواہ دیکھ | سَر پہ تلوار ہے کیا ہونا ہے؟[2] |

**وضاحت:** آه! د آخرت هغه خطرناک سفر، د ځنکدن تکليفونه، د قبر سختې، د حشر د ميدان وحشت، د پل صراط ويره---!! آه د ازغو ډکه لار ده او مونږه ګنهګاران---!! آه څه به کيږي؟ سفر اوږد دے، وخت کم پاتې دے، لاره ډيره سخته ده، آه! اے غافله انسانه---!! ستا غفلت! مرګ بس راتلونکے دے او ته په غفلت کښې ئې- اے بے پرواه، اے مجرمه! مرګ هر وخت په سر ولاړ دے---!! څه به کيږي؟

الله رَبُّ العالمين دې د خپل محبوبِ کريم صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په وسيله په مونږ باندې د ځنکدن سختې آسانې کړي- کاش! چې کله آخري وخت وي، رسولِ رحمت، شفيع امت صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کرم فرمائيلو سره د خپل ګنهګار خوا له تشريف راوړي، کاش! د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکو جلوو ليدلو سره، د ديدن د تندې ماتولو سره بالکل په نرمه روح داسې ووځي چې هډو پته اونه لګي-

## د ځنکدن سخته څنګه آسانه شي---؟

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** دا د ګنهګارانو حال دے، البته چې کوم نيکان خلق دي،

[1]... کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب، صفحہ:10بتغیر قلیل-

[2]... حدائق بخشش، صفحہ:166-

کامِل ایمان والا دي، د ګناهونو نه بچ کیدونکي او په نیکو کښې ژوند تیرونکي دي، حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام د هغوئي سره نرمي کوي- د معجمِ کبیر روایت دے، یو ځل خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د یو انصاري صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ خوا له تشریف یوړلو نو د هغه په خوا کښې ئې حضرت ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام اولیدو، اوئې فرمائیل: اے ملک الموته! زما د صحابي سره نرمي او شفقت اوکړه ځکه چې هغه مؤمِن دے- ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! تاسو خوشحاله اوسئ او ستاسو سترګې دې یخې وي، زه په تاسو باندې د ایمان راوړونکي هر ګس سره نرمي او شفقت کووم- (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! معلومه شوه: څوک چې کلمه لولي، د دواړو جهانونو د سردار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په غلامئ کښې وي، هغه خوش قسمته کوم چې کامِل ایمان والا دي یعنې په زړه کښې ایمان هم لري او د ایمان په تقاضو باندې هم عمل کوي مثلاً د ګناهونو نه هم ځان بچ کوي، لمونځونه هم کوي، نور نیک کارونه هم کوي، د ځکندن په وخت به اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! په هغوئي باندې آساني وي-

## د لمونځونو فضیلت

په روایتونو کښې دي: ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام د پینځه واړو لمونځونو په وخت خلقو ته په غور ګوري، بیا چې کله د روح قبض کولو د پاره راځي نو که انسان 5 وخته پوخ لمونځ

---

1... معجمِ کبیر، جلد:3، صفحه:102، حدیث:4075-

کزاره وي نو هغه ته رانزدې شي، شيطان د هغه نه لرې شي او حضرت ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام هغه ته پخپله د کلمه طيبه تلقين فرمائي- (1)

سُبْحٰنَ الله! د لمونځ کوونکو هم خومره ځانګړے شان دے--!!

ہر عِبادت سے بر تر عِبادت نماز
ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نماز
قلبِ غمگیں کا سامانِ فرحت نماز
ہے مریضوں کو پیغامِ صحت نماز
نارِ دوزخ سے بے شک بچائے گی یہ
رَبّ سے دِلوائے گی تم کو جنّت نماز
بھائیو! گر خُدا کی رضا چاہیئے
آپ پڑھتے رہیں باجماعت نماز
ہو گی دُنیا خراب، آخرت بھی خراب
بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز
بے نمازی جہنّم کا حقدار ہے
بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز
دیکھو! اللہ ناراض ہو جائے گا
بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز
یاخُدا تجھ سے عطّار کی ہے دُعا
مصطفٰی کی پڑھے پیاری اُمّت نماز (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ځنکدن د سختي آسانوونکي اعمال

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! نور هم ډير اعمال دي کوم چې د ځنکدن په وخت د آسانئ سبب جوړيږي- مثلاً ❁ خوک چې ډير درودِ پاک لولي، حضرت ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام د ځنکدن په وخت د هغه سره آساني فرمائي (3) ❁ هم داسې چې خوک د

[1]... معجم کبیر، جلد:3، صفحہ:102، حدیث:4075۔
[2]... وسائلِ فردوس، صفحہ:22 - 23 ملتقطاً۔
[3]... سعادة الدارين، الباب الرابع فيما ورد من لطائف المرائی ... الخ، اللطيفة السادسة، صفحہ:124 ماخوذاً۔

مسواک شریف په سنت باندې عمل کولو والا وي، د هغه سره هم د ځنکدن په وخت کښې آساني کولے شي [1] ❀ د روایتونو مطابق ځوک چې په اوداسه کښې اوسي، د مرګ سخته په هغه باندې آسانیږي [2] ❀ هم دغه شان د والدین سره د ښه سلوک په برکت سره [3] ❀ د صله رحمۍ کول (یعنې د خپلوانو سره د ښیګړې) په برکت سره [4] ❀ د صدقۀ فطر [سر سایه] ادا کولو [5] ❀ د الله پاک په لاره کښې د صدقې او خیرات کولو [6] او ❀ د نیک اعمالو په برکت سره د ځنکدن په وخت سخته آسانیږي۔

الله پاک دې زمونږ د ټولو په ځنکدن کښې، په قبر کښې، په حشر کښې آسانۍ نصیب کړي، کاش! د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په برکت بے حسابه جنت ته داخلیدل نصیب شي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: د سحر لمونځ د پاره راپاڅول

اے عاشقانِ رسول! د الله پاک د رضا حاصلولو، نیک لمونځ ګزاره جوړیدو د پاره د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي په 12 دیني کارونو کښې عملاً برخه واخلئ! د دعوتِ

---

1... حاشیۃ الطحطاوی علی مراقی الفلاح، فصل فی سنن الوضو، صفحہ:69۔

2... وضو کا طریقہ، صفحہ:6۔

3... قرّۃ العیون و مفرح القلب المحزون، الباب الاول فی عقوبۃ تارک الصلاۃ، صفحہ:2 ماخوذًا۔

4... قرّۃ العیون و مفرح القلب المحزون، الباب الثامن فی عقوبۃ قاتل النفس...الخ، صفحہ:20 ماخوذًا۔

5... المبسوط للسرخسی، کتاب الزکاۃ، باب صدقۃ الفطر، جز:3، جلد:2، صفحہ:114۔

6... احیاء علوم الدین، کتاب ذکر الموت، الباب الخامس فی کلام المحتضرین...الخ، جلد:4، صفحہ:585 ماخوذًا۔

اسلامي په 12 ديني کارونو کښې يو کار دے : **د سحر لمونځ د پاره پاڅول**-

د سحر د لمونځ د پاره خلق پاڅول د آخري نبي، نبئ اُميّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي- اَلحمدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي سره تعلق لرونکي عاشقانِ رسول د سرکارِ عالي وقار، د مدينې د تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په سُنَّت د عمل کولو د جذبې لاندې د سحر لمانځه نه مخکښې کوڅه په کوڅه ګرځي او په چغه درود او سلام لولي او خلقو ته د بسترو پريښودو سره د سحر لمونځ کولو د پاره د تللو دعوت ورکوي- تاسو هم په دې ديني کار کښې برخه واخلئ، سحر وختي پاڅئ، که الله پاک مو نصيب کړي نو د تهجدو لمونځ کوئ، ذِکر او درود شريف لولئ، د سحر د لمانځه نه پس د مدني مرکز د ورکړے شوې طريقې مطابق خلق د سحر د لمانځه د پاره پاڅوئ، د دې عمل په برکت سره به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! ډير ثوابونه اوګټئ-

## د کلمۀ پاک وِرد ئې شروع کړو

د پنجاب، اوکاړې ضلعې د ديپالپور ښار د يو اسلامي ورور بيان دے: زما ترۀ محمد رفيق عطاري د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمن نيولې وه او د شيخ طريقت، رهبرِ شريعت، اميرِ اهلِسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه مُريد وو، خلق د سحر لمانځه د پاره راپاڅول د هغه معمول وو، سحر وختي به پاڅيدو او لرې لرې به تللو او مسلمانان به ئې د سحر لمونځ د پاره راپاڅول، د دې عادت په وجه په ټول ديپالپور کښې مشهور وو، يو ځل د فيصل آباد نه واپس کور ته راتللو، چې د ماسخوتن د لمانځه وخت شو نو ګاډے ئې اودرولو او لمونځ ئې ادا کړو او بيا په سفر روان شو، ګاډے تيز روان وو، چې ناڅاپه محمد رفيق عطاري په تيزه تيزه کلمه اووئيله او اوئې فرمائيل: ټول کلمه اووائيئ، ټولو

کلمه اووئيله، لږ وخت پس ګاډي يوه ناڅاپي تيزه جهټکه اوخوړله او ګاډے کندې ته پريوتو، ټول خلق معمولي زخميان شول خو محمد رفيق عطاري ډير زخمي شو، د سخت تکليف باوجود د هغوئي په خُله کلِمه جاري وه او مَاشَآءَالله! قسمت ته ئې اوګورئ! په کلمه وئيلو وئيلو کښې د دنيا نه رخصت شو-

فضل وکرم جس پر بھی ہوا، لب پر مرتے دَم کلمہ | جاری ہوا، جنت میں گیا، لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د لمونځونو د وخت (Prayer Times) د ايپ پيژندګلو

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! د دعوتِ اسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن د لمونځونو د وختونو ***(Prayer Times)*** په نوم جاري کړے دے ❀ د دې ايپلي کيشن په ذريعه په ټوله دنيا کښې د هر ځائے وختونه او د قبلې اړخ معلوميدے شي ❀ د دې نه علاوه د پينځه واړو لمونځونو وختونه مياشتنے ټائم ټيبل ❀ ذِکرونه (روحاني علاج) ❀ مدني چينل ريډيو ❀ د لمونځونو په وختونو کښې د موبائل سائلنټ (***Silent***) کولو سهولت او اسلامي کلينډر موجود دے- په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! بيان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضيلت او د ژوند د ځينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

فرمائي: مَنۡ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدۡ اَحَبَّنِی وَمَنۡ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیۡ فِی الۡجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي-[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## کم خوراک سُنَّت دے

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **2 فرامین: (1)**: کله چې بنده په خپل خوراک کښې کمے کوي نو د هغه سینه د نُور نه ډکولے شي-[2] **(2)**: څوک چې په دنیا کښې کم خوري، الله پاک د فرښتو په مخکښې په هغه باندې فخر کوي-[3]

**اے عاشقانِ رسول!** کم خوراک سُنَّت دے- ❀ زمونږه خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د لوږې نه کم خوراک کولو ❀ هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې تر څو پورې په دنیا کښې تشریف فرما وو، چرې ئې هم پرله پسې 2 شپې په مړه ګیډه نه وه خوړلې ❀ هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د لوږې په وجه په ګیډه مبارکه پسې کانړي تړل-

**د خوراک د مِقدار په باره کښې حکمونه:** ❀ د لوږې ساتلو سره خوراک کول سُنَّت دي ❀ چې څومره لوږه وي، هغه همره خوړل مُبَاح دي (یعني په دې کښې نه ګناه شته، نه ثواب) ❀ دومره په مَړه ګیډه خوړل چې د ګیډې خرابیدو ګمان وي، حرام دي ❀ دومره په مړه

---

[1]... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343-

[2]... جامع صغیر، صفحہ:35، حدیث:469-

[3]...لباب الاحیاء، الباب الثالث والعشرون، صفحہ:203-

کیده خوړل چې د کيدې خرابيدو انديښنه نه وي، مکروه دي ❁ په خوراک کښې دومره کمے راوستل چې په فرائضو ادا کولو کښې خنډ شي، ناجائزه دي۔ (1)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د **مکتبة المدينه** د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 91 مخونو رساله **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| غم کے بادل چھٹیں قافلے میں چلو | خوب خوشیاں ملیں قافلے میں چلو |
| رب کے در پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں | بابِ رحمت کھلیں، قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب      صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... بہارِ شریعت، حصہ:16، جلد:3، صفحہ:374 ملخصًا۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبۡر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبۡر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمۡ وَبَارِكۡ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الۡاُمِّيِّ

الۡحَبِيۡبِ الۡعَالِى الۡقَدۡرِ الۡعَظِيۡمِ الۡجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحۡبِهٖ وَسَلِّمۡ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو د کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوۡلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمۡ

---

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرگانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِىْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

---

1... القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2... افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

3... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵